# د نیرنګ عشق د یوې قلمي نسخې د چاپ انتقادي متن سره موازنه

# COMPARASION OF PUBLISHED & UNPUBLISHED SCRIPT OF NERANG-E-AESHQ

ډاکټر عبدالله جان عابد*

**Abstract**: Nerang-e-Ashq is a Persian Masnavi by Mullana Muhammad Akram Ghanimat Kunjahi, which is translated by Abdul Hameed Baba in Pashto. This translation has been published many times from Delhi, Peshawar and Kabul. The Kabul's edition has recognized by well known researchers and classic experts of Pashto language. That text has been edited with the help of three manuscripts. The present study is a comparative analysis of above mentioned text with another manuscript. In the light of this manuscript, the textual errors and erratas are highlighted. This study would be interesting for the Pashto reader of classic literature as well as textual critics.

Nerang-e-Ashq is a classic text. In the study of language and literature. The classic texts play an important role, because these are the foundation of lexicography, Grammar writing and literary historiography. The present study is dealing with all these areas.

حمید بابا د پښتو کلاسیکي شاعرۍ یوه داسې معتبره حواله ده،چا چې د پښتو کلاسیکي شاعرۍ د دوو معتبره نومونو پۀ موجودګۍ کښې د خپل وجود احساس ورکړو۔ دغه معتبر نومونه د خوشحال خان خټک او رحمان بابا وو، د چا د لوړ ادبي غورځنګ پۀ آوان چې هم دې د پښتو پۀ کلاسیکي شاعرۍ کښې د سبکِ هندي مؤسس جوړ شو۔ او د خپل ځانګړي اسلوب او ډکشن له امله ئې یو داسې ځانګړې شناخت او پیژندګلي پیدا کړه چې د ,,موشګاف،، پۀ لقب ملقب شو۔ ورستو دده د شعري دبستان پۀ مضبوطو بنیادونو کامګار خټک،کاظم خان شیدا او علي خان د شعري صنعت ګرۍ لوړ لوړ محلونه اودرول چې د نظر خاوندان ئې ګوري نوهرخیال ئې تاج محل شي او د جمال هر یو ارمان ئې پوره شي تر اوسه د حمید بابا څلور اثار موږ ته معلوم دي،چې دیوان ئې تر ټولو اثارو زیات ارزښتمند

* Chairman, Pakistani Languages, Allama Iqbal Open University Islamabad.

دی ـ دغه دیوان پهٔ ادبي دنیا کښې دَ در ومرجان پهٔ نامه بللی شي ـ یو بل اثر ئې شرعة الاسلام نومیږي چې پهٔ ۱۳۶۶ هـ ش/ ۱۹۸۷ع کښې ئې یو عکسي چاپ د کابل نه خپور شوی دی ـ پرته له دې دوې قیصې ئې پهٔ پښتو مثنوي لیکلي دي ـ یوه قیصه د شاه او ګدا ده چې پهٔ ۱۹۵۷ ع کښې پهٔ پېښورکښې د استاد همیش خلیل پهٔ زیار خپره شوې او بل نیرنګ عشق دی چې د مولانا محمد اکرم غنیمت کنجاهي(۱) د فارسي مثنوي پښتو منظومه ترجمه ده.پهٔ دغه کښې حمید خپل شعري هنر،لیاقت او قابلیت څرګند کړی دی ـ نیرنګ عشق پهٔ اصل کښې د عزیز او شاهد د مینې داستان دی،چې پهٔ ۱۰۹۶ هـ کښې ورته مولانا محمد اکرم غنیمت فارسي جامه اغوستې ده ـ پهٔ هغه زمانه کښې ددې قیصې درز تر لرې لرې خور ؤ،چې د حمید بابا تر غوږو هم رسېدلی ؤ او هغه ئې ددغه اغېزمن اثر ژباړې ته هڅولی ؤ ـ

د نیرنګ عشق د ژباړې پهٔ باب د افغانستان ځوان محقق زرین انځور لیکي چې:

"کومه خبره چې د حمید دنیرنګ عشق پهٔ باب زیاته د پام لرنې وړ ده هغه دا چې د حمید ژباړه یواځې د ژباړې رنګ نهٔ لري او د مولانا غنیمت نیرنګ عشق ئې ټکي پهٔ ټکي نهٔ دی ترجمه کړی حتیٰ ځینې برخې چې ئې پهٔ نظر اضافي ورغلي دي، هغه ئې هیڅ نهٔ دي ژباړلي. دغه لومړني اتهٔ سرونه ئې نهٔ دي ترجمه کړي، حمد، مناجات، نعت، د عبدالقادرګیلاني مناقب،داورنګزیب ستائینه او ځینې نورې برخې ـ هغه د اصل اثر(۱۷۱) بیتونه نهٔ دي ژباړلي" (۲)

تراوسه د حمید بابا د نیرنګ عشق ګڼې نسخې دریافت شوي دي چې درې نسخې ئې د برطانیې پهٔ مختلفو لائبریریانو کښې خوندي دي ـ دوه نسخې ئې د زلمي هیواد مل پهٔ لائبریري کښې موجود دي ـ یوه یوه نسخه ئې د پښتو ټولنې کابل،کابل پوهنتون او ملي ارشیف کابل لائبریریانو کښې محفوظې دي او یوه نیمګړې نسخه ئې استاد همېش خلیل سره ده ـ د حمید نیرنګ عشق تراوسه څلور ځله چاپ شوی دی ـ پهٔ ړومبي ځل دغه اثر پهٔ ۱۲۸۴ هـ ق کښې پهٔ پېښور کښې د چاپ د مرحلو نهٔ تېر شوی دی ـ پهٔ دوېم ځل پهٔ ۱۲۰۰ هـ ق کښې پهٔ دهلي کښې چاپ شوی دی ـ پهٔ درېم ځل پهٔ نیمګړي ډول پهٔ پېښور کښې د استاد همیش خلیل له خوا

پۀ ورکه خزانۀ کښې ادب والو ته رسیدلی دی (۳) او پۀ څلورم ځل پښتو ټولنې کابل له خوا د پوهاند صدیق الله رشتین پۀ زیار پۀ ۱۹۷۰ع کښې خپور شوی دی. دا یو انتقادي متن دی چې د دریو قلمي نسخو له مخې مرتب کړی شوی دی. د نیرنګ عشق مدون دغه نسخې داسې معرفي کړې دي:

**د ادبیاتو د پوهنځې نسخه**: دغه نسخه تر ټولو زړه او ډاډ منه نسخه ده چې پۀ پاخۀ نستعلیق خط لیکلې شوې ده. مونږ دغه نسخه تر ټولو غوره ګڼلې ده، نو ځکه اصل متن ورنه نقل شوی او بیا له نورو نسخو سره مقابله شوې ده.

**د کابل د عامې کتابخانې نسخه**: دا نسخه پۀ کال ۱۲۸۲ هـ د جمعدار محمد نور پۀ سپارښتنه لیکل شوې ده. خط ئې نسخ دی ، ټول مخونه ئې۱۵۲ دي چې پۀ هر مخ ۱۱ بیتونه لري. دا نسخه هم تر ډیرې اندازې سمه ده او دویمه درجه لري.

**د پښتو ټولنې د کتاب خانې نسخه**: دا نسخه تر ټولو ورستنۍ ښکاري. خط ئې نسخ دی مګرپوخ نۀ دی. دا نسخه هم ۱۵۲ مخونۀ لري چې پۀ هر مخ کښې ئې ۱۲ بیتونه راغلي دي.(۴)

نیرنګ عشق یو زوړ متن دی او زاړۀ متون د یوې ژبې پۀ مطالعاتو کښې د ملا د تیر حیثیت لري. ولې چې ددغه متونو پۀ بنیاد د یوې ژبې د ارتقا تاریخ لیکلی شي،لغت او ګرامر ئې مرتب کؤلی شي او نور ژبني،ادبي او فرهنګي مطالعات ئې کؤلی شي. ځکه نو د زړو متنونو پۀ اصل صورت یا کم نۀکم پۀ نزدې صورت کښې بازیافت باندې، متن پوهانو زیات زور اچؤلی دی. د یو متن پۀ اصل صورت کښې بازیافت پۀ حقیقت کښې د مصنف د منشا بازیافت وي. د مصنف د منشا د بازیافت مطلب پۀ اسانو لفظونو کښې دا دی چې هغۀ ( مصنف) یو متن پۀ اخري ځل څه رنګه او پۀ څه صورت لیکلی دی. د یو متن پۀ اصل صورت کښې د بازیافت پۀ باب د متن څیړنې خپل اصول او موازین دي چې مدون یا د متن څیړنې محقق ئې د متن د تهیې پۀ وخت پکاروي. اوس که د تدوین پۀ وخت د یو متن د یو نۀ زیاتې نسخې د مدون تر مخې وي نو د هر څه نۀ اول هغه د متن د څیړنې د اصولونو او موازینو پۀ رڼا کښې د متن د پاره د اساسي نسخې انتخاب کوي،او وروستو له دې ئې د نورو نسخو متونو سره موازنۀ او مقایسه کوي او پۀ دغه موازنه

او مقایسه کښې د اساسي نسخې سره د نورو نسخو د متونو توپیرونه او فرقونه په حاشیو کښې د نسخه بدلو په صورت کښې ښائي. په دغسې کؤلو سره هغه د متن پوهانو د پاره د یو متن د مجموعي مطالعې صورتونه پیدا کوي ،چې د مصنف منشا ته د رسیدلو د پاره اساتیاګانې تر لاسه کوي. دلته د نیرنګ عشق د انتقادي متن سره د قلمي متن د موازنې مقصد هم دغه دی،چې د مصنف د منشا بازیافت ته اساتیاګانې پیدا کړی شي او د نیرنګ عشق د متن مجموعي مطالعې د پاره لارې چارې ولټؤلی شي. په دې لړ کښې د نیرنګ عشق کومه قلمي نسخه چې زموږه تر مخې ده،هغه د افغانستان د نومورړي محقق استاد حبیب الله رفیع د کتاب خانې ملکیت دی. هر کله چې موږ د نیرنګ عشق د چاپ انتقادي متن سره ددې نسخې متن موازنه کړو نو ډېرو ځایونو کښې ئې توپیري برخې رامخې ته شوې چې موږ ئې د دواړو متنونو دې موازنې او مقایسې ته ؤهڅؤلو. خو د موازنې او مقایسې څخه اول لازمه ګڼو چې دغه نسخه په لنډو ټکو معرفي کړو او مهمې ښیګړې ئې وښایو.

د حمید د نیرنګ عشق کومه نسخه چې زموږ پېش نظر ده، هغه په ښهٔ حالت کښې ده او د پیل او پائی له خوا بشپړه ده. د خړ رنګ معمولي کاغذ پکښې استعمال شوی دی. نسخه په توره سیاهۍ او عناوین پکښې په سره سیاهۍ لیکلی شوي دي ، چې د پخواني روایت مطابق په فارسۍ کښې دي. قیصه د مثنوۍ په هیئت ژباړلی شوې ده. په ترقیمه کښې ئې کاتب خپل نوم او د کتابت کال درج کړي دي، خو د شاعراحوال او د کتابت ځائی وغیره ئې نهٔ دي لیکلي . دا قلمي نسخه پنځوس پاڼې لري،چې د اولنۍ صفحې اغاز ئې ددې ټکو نهٔ شوی دی ,,قصه پرغم. عزیز و شاهد،، ددې نهٔ پس بسم الله لیک ده،چې پرې پسې ړومبی فصل پیل کیږي د پیل دوه شعرونه ئې په دې ډول دي ,,, پس له حمده له دروده وائي دا ــ دا په در د ښکلي مخ ولاړ ګدا،، چې په وخت د اورنګ شا آتش پاره له مجمره د پنجاب شوله ښکاره (۵)

ددې نسخې په هر مخ ۱۲ شعرونه درج دي. د ټولو شعرونو تعداد ئې ۱۷۴۲ دی. خط ئې نسخ دی خو پوخ نهٔ دی. په ترقیمه کښې ئې د تکمیل کال ۱۲۸۹ هـ ق لیک دی او کاتب ئې غلام محمد دی. ددې نسخې ټول متن په درې کربنیزو سرو او شنو چوکاټونو کښې بند دی.

اوس د دواړو نسخو(چاپ انتقادي متن او قلمي نسخه) موازنې او مقایسې ته تم کیږو . پۀ دې موازنۀ او مقایسه کښې به اول د قلمي نسخې متن لیکو او ورپسې به د انتقادي چاپي متن نه نسخه بدلونۀښودلی شي:

څۀ حکمت ئې عملي معین راوړي
چې ظاهر ئې برګ و بار د باطن راوړي

د قلمي نسخې دا شعر هم د انتقادي متن پۀ څلورم مخ لیک دی، چې دویمه مصرعه ئې د خطي نسخې متن سره توپیر لري . پۀ انتقادي متن کښې دغه مصرعه داسې درج ده:،،چې ظاهر ئې پرکو بار د باطن راوړی،، چې پۀ لاژمه توګه درسته نۀ ده .

هغه دم له مخلوق پټ پۀ څه تدبیر شو
پۀ صورت د ښائسته هلک تصویر شو

د قلمي نسخې دا شعر د انتقادي متن پۀ څلورم مخ راغلی دی ،چې هلته ئې پۀ ړومبۍ مصرعه کښې څۀ کلمې بدلې راغلې دي . مصرعه دا رنګ لیک ده:
"هغه دم له خلقه ګوښی پۀ تدبیر شو"

غمزه ګر ؤ شیوه ګر لکه نر حور
فتنۀ ګر ؤ جلوه ګر لکه نر حور

د قلمي نسخې دا شعر هم د انتقادي متن پۀ څلورمه صفحه اندراج دی ،چې متني توپیر پکښې زیات تر سترګو کیږي .

"غمزه ګر ؤ شیوه ګر ؤ لکه حوره
دم ئې نۀ وهه بې دمه تش کالبوت شۀ
له حیرته حیران پاتې لکه بُت شۀ

د قلمي نسخې دا شعر هم د انتقادي متن پۀ څلورمه صفحه راؤړل شوی دی چې ردیف ئې د ,,شۀ، ، پۀ ځائی ,,شو، ، دی او پۀ دویمه مصرعه کښې ئې د ,, حیرت، ، پۀ ځائی ,,هیبت، ، مندرج دی۔

دائره د وقار شوه وربانديِ تنګه
د تقوي ښیښه ئې وؤیشته له سنګه

دا شعر د انتقادي متن پۀ پنځم مخ باندې څۀ دا رنګ راوړی شوی دی:
دائره شوه د قرار وربانديِ تنګه
د تقوي ښیښه ئې وؤیشته له سنګه

نا علاج له ځایه پاڅېده ولاړ شو
ددې صید پۀ نیول سره ویجاړ شو

د قلمي نسخې دا شعر هم د انتقادي متن پۀ پنځم مخ درج دی،چې د خطي نسخې د شعر سره څۀ لږ ډېر توپیر لري لکه د ,,نا علاج، ، پۀ ځائی پکښې,,لاعلاج، ، کلمه راوړلې شوې ده او پۀ دویمه مصرعه کښې ئې ,,پۀ نیول سره ویجاړ شو، ، پۀ ځائی پکښې، ،د نیولو پۀ وئیلاړ شو، ، عبارت لیک دی۔

پۀ بانۀ بانۀ تر هغې شو تر دې شو
عاقبت پۀ څه هنر ورته نزدې شو

دا انتقادي متن د پنځم مخ شعر دی،چې هلته څۀ پۀ دې شکل درج دی ۔,, پۀ بانۀ بانۀ تر هغه بیا تر دې شو ـ عاقبت پۀ څه تقریب ورته نزدې شو، ،

هغه ووت لکه روح له مدرسې
دا بل تیر غوندې روان شو وريسې

د قلمي نسخې دا شعر هم پۀ برني بیان شوي مخ باندې درج دی،چې د دوېمې مصرعې ,,دا بل تیر، ، کلمه پکښې,,دې جوسه، ، راؤړل شوې ده۔

کۀ هزار ځله زاري کړله ملا
خواجه نۀ کړو التفات ورته اصلا

د قلمي نسخې دا شعر د انتقادي متن د پنځم مخ اخرينې شعر دی،چې هلته ئې اولنۍ مصرعه څۀ دا رنګ درج ده:,,کۀ هزار زاري اويو نۀملا کړه،، پۀ دغه صورت کښې مصرعه بېخي مبهمه ده۔

زر له زر ئې حيران پرېښو يه پرېوت
له مجازه توبه ګار پۀ ژړا کېښوت

دا شعر د انتقادي متن پۀ شپږم مخ داسې درج دی:,, زر راولوېده حيران پۀ پښو ئې پرېوت ـ له مجازه توبه ګار پۀ ښونې کېښوت،،

مجاز هر چرې کار ساز د حقيقت دی
نور دې پاتې پۀ دا کار کښې څۀ حجت دی

د قلمي نسخې دا شعر هم د انتقادي متن پۀ شپږم مخ راغلی دی،چې د دوېمې مصرعې ,,حجت،، کلمه پکښې پۀ ,,دقت،، اړؤلی شوې ده۔

مينۀ بويه مجازي کۀ حقيقي وي
ميدان يوسه کۀ پۀ جنګ کۀ پۀ بازي وي

دا هم ددغه برنۍ ذکر شوې صفحې شعردی چې د ,,ميدان يوسه،، پۀ ځائی پکښې ،،ميدان راپيره،، کلمه راغلې ده۔

کۀ د سپي پۀ پيروۍ به مومي يار څوک
پۀ دا کار کښې دې نور نۀ کا عار د يار څوک

د قلمي نسخې دا شعر د انتقادي متن پۀ اووم مخ درج دی ،چې د اولنۍ مصرعې نۀ ئې د ,, به،، لفظ حذف دی او دوېمه مصرعه ئې هم د څۀ لږ ډېر ترميم ښکار ده۔ مصرعه څۀ دا رنګ ليک ده: ،، پۀ دار دې اصلا نۀ کا عار و يار څوک،،

پهٔ بازار کښې ئې خوبان دي پهٔ هر لوري
پهٔ سرو شونډو له کوثره شکر پلوري

د قلمي نسخې دا شعر د انتقادي متن پهٔ لسم مخ درج دی، چې اولنۍ مصرعه ئې داسې لیک ده: ,,پهٔ بازار کښې ئې خوبان پهٔ هر هر لوري،،

یو فقیر ؤ د معني پهٔ ملک امیر ؤ
د بشر له شرکه پاک لکه ضمیر ؤ

د قلمي نسخې دا شعر د انتقادي متن پهٔ لسم مخ درج دی،چې هلته د امیر او ضمیر د قافیو نه ورستو پکښې ,,ؤ،، ردیف حذف دی.

نجابت ئې خانهٔ زاد ؤ د ګوهر
سعادت ئې اعتماد ؤ د اختر

دا هم د لسم مخ شعر دی،چې سعادت پکښې ,,سیادت،، شوی دی.

جلوه ګر چې پهٔ ده هغه ګوهر شو
زر ئې ګرد د یتیمۍ خولۍ پهٔ سر شو

د قلمي دا شعر د انتقادي متن پهٔ یولسم مخ لیک دی،چې د لومړنۍ مصرعې کلمه ,,پهٔ ده،، ئې ,,پهٔ موده،، بدله شوې ده. او د دویمې مصرعې کلمه,,خولۍ،، ئې پهٔ ,,نوې،، بدله شوې ده. د پښتو ټولنې کابل او کابل د عامې کتابخانو پهٔ نسخو کښې دغه کلمه، ،ټوپۍ،، درج ده. (۲)

طائفه د بګتیاؤ بد اندېښته
ناګهانهٔ د یو خوا شوه ورته پېښه

دا شعر د قلمي نسخې پهٔ حاشیه درج دی،شاید چې د متن لیکلو پهٔ وخت د کاتب نهٔ پاتې شوی وي او بیا ورستو ئې حاشیې ته خېژؤلی وي. خو دا شعر پهٔ انتقادي متن کښې شته چې پهٔ دولسمه صفحه راؤړی شوی دی. البته دغلته ئې د مصرعو

ترتیب هم بدل دی او د یوې مصرعې کلمو کښې ئې فرق هم دی ـ وې لولئ: ,, یوه ورځ له یوې لورې شوه ورپېښه ــ طائفه د بگتیاؤ بد اندېښته،،

تماشې ته به د ښکلو له لغمانه
وو ولاړ هزار یوسف هزار کنعانه

د قلمي نسخې دغه شعر د انتقادي متن پهٔ شپاړسم مخ راوړې شوی دی خو ولې دغلته د اولنۍ مصرعې کلمه,,ته به د ښکلو،، پهٔ ځائی ,,ته ئې د ښکلو،، درج ده او د پښتو ټولنې کابل او کابل د عامې کتابخانو پهٔ نسخو کښې دغه ذکر شوې کلمه,,ته ددې ښکلو،،(۷) راغلې ده ـ ددې شعر دوېمه مصرعه هم د انتقادي متن د مصرعې سره څه لږ ډېر توپیر لري چې د ,,یوسف،، پهٔ ځائی پکښې ,,کشمیر،،لفظ راغلی دی ـ مصرعه داسې ده: ,,وو ولاړ هزار کشمیر هزار کنعانه،،

چې پهٔ هیڅ سرو سامان نهٔ ؤ نیمگړی
ځکه ؤ د جمعیت د زړونو غړی

د قلمي نسخې دا شعر د چاپ انتقادي متن پهٔ اولسم مخ راغلی دی،چې دوېمه مصرعه ئې د قلمي نسخې د متن سره توپیر لري ـ پهٔ چاپ انتقادي متن کښې د شعر دویمه مصرعه داسې درج ده: ,,ځکه ؤ پهٔ جمعیت د زړهٔ نومړي،،

وار پهٔ وار ئې کړي قیصې د اور حصې
الوده د محبت پهٔ غم غصې
وې څه له گزشته ؤ شر و شور کړئ
د ژوندو ترانه واورئ مړهٔ پهٔ گور کړئ
د عزیز پهٔ نوم نومړی باتمیز ؤ
پهٔ هر ځائی لکه نامه هسې عزیز ؤ

د قلمي نسخې دغه دربواړه شعرونهٔ هم د نیرنگ عشق د چاپ انتقادي متن پهٔ اولسم مخ راغلي دي، چې د مقایسې پهٔ نتیجه کښې ځینې توپیري برخې پکښې تر سترگو کېږي ـ د مثال پهٔ توگه د ړومبي شعر اولنۍ مصرعه پهٔ چاپ متن کښې

داسې راغلې ده: ,,وار پۀ وار ئې کړې قیصې د غم حصې،، دغسې د دوېم شعر دوېمه مصرعه پۀ چاپ متن کښې پۀ دې عبارت خوندي ده: ,, د ژوندون ترانۀ واورئ مړۀ در ګور کړئ،، او د درېم شعر دوېمه مصرعه پۀ کښې داسې درج ده:,,پۀ هر چا لکه نامه هسې عزیز ؤ،،.

هر سړی چې د سرود پۀ نغمه ناڅي
تۀ به وائې لکه موم پۀ آتش څاڅي

د قلمي نسخې دغه لوړ درج شوی شعر د چاپ انتقادي متن پۀ اتلسم مخ داسې راغلی دی: هر احد چې د سرور پۀ نغمه ناڅي ـ تۀ به وائې لکه موم پۀ لنبه څاڅي

ځائی پۀ ځائی پۀ تال د فکر ځنګېدۀ
د ارام له دل ارامه جنګېدۀ
اورېدو ئې د لېدو شانکې پۀ زړۀ کښې
له عیسئ له دمه روح راغی پۀ مړۀ کښې
تا به وئیل چې نوشلی دۀ شراب دي
یا لیدلي دۀ پیري چری پۀ خواب دي
ګاه به مست بې هوشه لاړ پۀ هسې رنګه
چې ښېښه ئې د عصمت ویشته له سنګه

د نیرنګ عشق دقلمي نسخې دغه برني څلور واړه شعرونه د چاپ انتقادي متن پۀ دویشتم مخ راغلي دي ـ هر کله چې موږ ددغه شعرونو پۀ حواله د دواړو متونو(قلمي او چاپي) پرتلیزه مطالعه کوؤ،نو د متن ځینې برخې ئې د یو بل سره توپیر راښائي ـ د مثال پۀ توګه د ړومبي شعر د ړومبۍ مصرعې د سر کلمه پۀ قلمي نسخه کښې ,,ځائی پۀ ځائی، ،راغلې ده او پۀ چاپي انتقادي متن کښې ,,ځانه ځان، ، درج ده ـ ددغسې د دوېم شعر ړومبۍ مصرعه پۀ قلمي کښې داسې مندرج ده: ,,اورېدو ئې د لېدو شانکې پۀ زړۀ کښې،، او پۀ چاپي انتقادي متن کښې داسې لیک ده: ,,اورېدو د لېدو کار وکړ پۀ زړۀ کښې ،، هم دغه حال د مذکوره شعر د دوېمې مصرعې هم دی چې پۀ قلمي نسخه کښې ئې عبارت داسې دی: ,,له عیسئ

له دمه روح راغی په مړۀ کښې،، او په چاپ انتقادي متن کښې داسې ده: ,,د عیسیٰ له دمه دم راغی په مړۀ کښې،، اوس که موږ د دریم مندرج شعر متن ته ځیر شو نو په دواړو متونو( قلمي او چاپي) کښې ئې د ړومبۍ مصرعې متن واضح فرق ښائي. په قلمي نسخه کښې د مذکوره مصرعې عبارت داسې دی: ,,تا به وئیل چې نوشلي دۀ شراب دي،، او په چاپي انتقادي متن کښې داسي دی: ,,تا به وې چې ګنه څښلي دۀ شراب دي،، دغسې د څلورم شعر دوېمه مصرعه خو بېخي په دواړو متونو کښې بدله راغلې ده. د قلمي متن مصرعه داسې ده: ,,چې ښېښه ئې د عصمت ویشته له سنګه،، او د چاپي متن مصرعه داسې ده: ,,چې دښنو به ئې واهه په سینۀ سنګه،،

له شاهده سره ستا څۀ دي زاهده
دا دعوي کوې بې ځایه بې شاهده

د قلمي نسخې دغه شعر د نیرنګ د چاپ انتقادي متن په پنځویشتم مخ راغلی دی،چې هلته ئې دوېمه مصرعه داسې درج ده: ,, دا دعوي کوې بې ګواه بې شاهده،،.

چې په اصل بګتیاؤ کوفتیاؤ
مخ ئې تور شه که اتۀ ؤ که اتیا ؤ

لوړ درج شعر د نیرنګ عشق د قلمي نسخې دی،چې په چاپ انتقادي متن(۲۶ مخ) کښې ئې دوېمه مصرعه داسې لیک ده: ,, مخ ئې ورک شه کۀ اتۀ که اتیا ؤ ،،.

دۀ وئیل ای د دین ډېوې څۀ خو انصاف کړه
ګستاخي د التماس راته معاف کړه
که یو ځل له هغه مخه برابر شې
تۀ به هم زما په څېر خراب اوتر شې
واغست رنګ د اجابت مخ د دعا
مشتري شو امیدوار په مدعا
نۀ پوهېږم چې دا اور په څۀ نمائی دی
چې ئې زۀ خاورې ایرې کړم دی په ځائی دی

ځو به دا بله لمبه ناسته پۀ جوش وي
د یاقوت د در پۀ څېر هسې خاموش وي
هغه شوخ پۀ اورېدو پۀ ښه نغمې
د آرام پۀ سینۀ ږدي د غم تغمې
ځو به تۀ لکه پرکار څرخې راباندې
ځو به زۀ لکه نقطه سر شم درلاندې

لوړ درج شوي شعرونه د نیرنګ عشق د قلمي نسخې څخه اخیستل شوي دي . هر کله مو چې ددغه شعرونو متن د نیرنګ عشق د چاپي انتقادي متن د متعلقه شعرونو سره موازنه کړو ،نو ځائی پۀ ځائی پۀ کښې توپیري صورتونه تر سترګو شول . لکه د ړومبي شعر د ړومبۍ مصرعې د ,,ډیوې،، توري پۀ ځائی پۀ انتقادي متن کښې ,,قبلې،، توری درج دی . د دوېم شعر ړومبۍ مصرعه پۀ انتقادي متن کښې پۀ دغه عبارت راغلې ده : ,, کۀ یو ځل له هغه مخه مخ استر شي ،، درېم شعر پۀ انتقادي متن کښې بیخي پۀ بدل صورت کښې ظهورېږي ,, واخیست رنګ د اجابت ددۀ دعا ـ مشرف ئې شو امید پۀ مدعا ،، د څلورم شعر د ړومبۍ مصرعې د ,, اور ،، توري پۀ ځائی ,,درد ،، توری لیک دی . د مذکوره درېم شعر پۀ څېر پنځم شعر هم پۀ انتقادي متن کښې خپل هیئت بدل کړی دی : ,,ځو ئې بلې لمبې کښېناستې پۀ جوش ـ د یاقوت د اور پۀ څېر هسې خاموش،، هم دغه حال د شپږم شعر هم دی: ,,هغه شوخ پۀ اورېدو ددې نغمې ـ د ارام پۀ سینۀ کېښودې تغمې،، .او د اووم شعر د ړومبۍ مصرعې ،،څرخې،، توری پۀ ,,چورلې،، بدل شوی دی .

پرته د دغو څو نمونو پۀ دې قلمي نسخه کښې نور ډېر داسې شعرونه هم شته چې متن ئې د انتقادي متن د شعرونو سره توپیر لري . ددې موازنې او مقایسې غټ مقصد او مدعا دا وه ،چې کۀ چرې څوک مدون د ټولو قلمي نسخو څخه پۀ استفاده د حمید د نیرنګ عشق یو باوري انتقادي متن تیارؤلو ته ملا تړي،نو چې ددې نسخې متن او نسخه بدلې ئې هم پۀ نظر کښې وي . د نسخه بدلو د ارزښت پۀ باب دغه اقتباس ولولئ:

,,د نسخه بدلو د اندراج فائده دا وي چې د متن ټول اختلافي قراتونه او روایتونۀ راغونډ شي او دغسې د متن مجموعي مطالعې ته لاره شي . پۀ دې

مجموعې کښې د یو زیرک متن پوهه له پاره دا پته لګؤل هیڅ ګرانه نۀ وي چې پۀ دغه اختلافي روایتونو کښې د مصنف یا مؤلف سمونې څومره دي او د زمانې د تغیراتواو د کاتبانو د لاس وهنو اثرات څۀ رنګه او څومره دي. د اختلافي قراتونو د اندراج بله فائده دا ده چې دمتن دبعضې مبهمو برخو وضاحت ترې وشي. دنسخه بدلو د اندراج دوې طریقې مروجې دي، یو د متن پۀ هر مخ حاشیو کښې او بله د مسلسله نومرو پۀ واسطه د متن پۀ پائی کښې. د دواړو طریقو خپل خپل فوائد دي یوه پۀ مطالعه کښې سهولت پیدا کوي او بله پۀ طباعت کښې،،(۸)

د متن څېړنې پۀ دنیا کښې د انتقادي متونو خپل ارزښت وي،چې د مصنف د منشا پۀ استخراج کښې د متن پوهانو پۀ زړۀ پورې مرسته کوي او د ژبپوهانو لساني جائزو ته د استناد درجه ورکوي. ځکه چې پۀ نننی جدید دور کښې هغه لساني جائزې د سند درجه تر لاسه کوي، د کومو بنیاد چې د کم سواده کاتبانو د لیکلي شوؤ متونو پۀ ځائی پۀ تنقیح شوؤ،تنقید شوؤ او تصحیح شوؤ متونو باندې وي. ځکه چې دغه متون د مصنف منشا ته زیات ورته وي.

## حوالې او حاشيې


۱ ـ مولانا محمد اکرم غنیمت د ګجرات د کنجاه نومې کلي اوسیدونکی ؤ. اندازاً د یولسمې صدۍ هجرۍ په نیمايي کښې زېږېدلی ؤ ـ د اورنګ زیب عالمګیر په دور کښې د لاهور د حکمران نواب محمد مکرم خان ندیم او مصاحب ؤ ـ د پلار نوم ئې نذر محمد ؤ ـ د شاه صالح محمد مرید ؤ او د عبد القادر جیلاني عقیدت مند ؤ ـ د یو دیوان څښتن ؤ چې په ۱۳۳۷ هـ ش کښې د پروفېسر غلام رباني عزیز په تصحیح او مقدمه د لاهور نه چاپ شوی دی ـ مزار ئې د کنجاه جنوب ته د دیوانانو باغ سره نژدې دی ـ

۲ ـ زرین انځور، د حمید داستاني اثارو ته یوه کتنه، مشموله د عبد الحمید مومند یاد د زلمی هیواد مل په زیار، کابل، د افغانستان د علوموا کادمي، ۱۳۶ هـ ش(۱۹۸۷ع)، م: ۷۴

۳ ـ همېش خلیل، ورکه خزانه(اول ټوک)، پېښور، دارالتصنیف، ۱۹۲۰ع، م م: ۲۳۴ ـ ۲۴۷

۴ ـ رښتین، صدیق الله(مقدمه) نیرنګ عشق، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳۴۹ هـ ش (۱۹۷۰ع)، م: ب

۵ ـ د حمید د نیرنګ عشق قلمي نسخه مملوکه: استاد حبیب الله رفیع

۶ ـ رښتین، صدیق الله(مدون) نیرنګ عشق، م: ۱۱

۷ ـ هم دغه، م: ۱۲

۸ ـ عابد، عبد الله جان، پښتو کښې د تدوینِ متن روایت: یوه تنقیدي مطالعه، ( د پي ایچ ډي مقاله، ناچاپه)م م ۲۲ ـ ۲۳